مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۰۴

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (سلمه برخه)

### شیر محمد «صوفي صاحب» پیر اکرم

د ترین له قبیلې څخه دئ او په کندهار کې زېږېدلی دئ. په کابل کې د پیر اکرم خان د خانقاه بنسټ ایښودونکی. هندوستان ته ئې د مرشد په لټه سفر وکړ او له مرشد احمدالله سره ئې زده کړه وکړه. په کابل کې وزیر اکبر خان ته راغی او د انګلیسانو پر ضد جهاد ته ئې چمتووالی ونیوۀ. په لښکر کې شامل سو. ددۀ ښـۀ کارونه د ٖامیر دوست محمد خان د زوی او د وزیر محمد اکبر خان د ناسکه ورور٘ سردار اکرم خان تر پاملرنې راغلل او د شاهي ګارډ کنډک ته راتبدیل سو. سردار اکرم خان چې د صوفي صاحب د روحاني ځواک تر اغیز لاندې راغلی وو یو ددۀ له پیروانو څخه سو. نوموړي دی په شاهي دربار کې وساتـۀ، له پوځي دندو څخه ئې خلاص کړ، په چهار آسیاب کې ئې یو ټوټه ځمکه ورکړه، همدا شان یو کور او د کابل په ښار کې د هندوانې د میوې د کرکیلې لپاره ځمکه ورکړه. په پای کې دغه صوفي د پیر اکرم په نوم شهرت وموند. کله چې دی وفات سو سردار اکرم خان نوموړی په ډېر عزت سره د کابل د یوۀ غرۀ پر سر ٖد خواجه صفا په بلې غاړې کې٘ خاورو ته وسپارۀ او همدلته ئې زیارت او یو جومات جوړ کړ.

### ملا شیرین، شیرین

په ۱۹۰۲ز کال کې د غزني په بابا صاحب کې زېږېدلی دئ. دودیزې زده کړې ئې ترلاسه کړلې. زرګر. شاعر.

### غلام محمد شیرزاد

له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۹ز کال پورې د کانونو د وزارت سرپرست وزیر. په ۱۹۴۹ز کال کې د مخابراتو وزیر. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۵ پورې د ایتالیا سفیر، له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د پاریس سفیر. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د سوداګریزو چارو وزیر.

### ډاکټر عبدالرحیم شیرزوی

د سردار شیر احمد زوی په ۱۹۳۵ز کال کې زېږېدلی دئ. خپلې زده کړې ئې د استقلال په لیسې او د کابل پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې کړي دي. خپله دکتورا ئې په نړۍ والو حقوقو کې په وارسا کې تر لاسه کړه. دیپلومات. اسلام


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

آباد ته د مأموریت د مشر مرستیال. په ۱۹۷۴ز کال کې په پراګ کې افغان سفیر. د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## سلطان احـمـد شیرزوی

د سردار شیر احمد خان زوی او د سردار فیض مـحـمـد خان زکریا اوښی په ۱۸۹۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. خپلې زده کړې ئـې د حـبیـبـیـې په لیسې او د استانبول د پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې کړې دي. په ۱۹۲۰ز کال کې د مسکو سفیر. له ۱۹۲۲ تر ۱۹۲۵ز کال پورې ترکیې ته لومړی افغان دیپلوماتیک پلاوی. په ۱۹۲۶ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت لومړی مرستیال وزیر. په ۱۹۲۷ز کال کې د سردار ِ اعلی لقب ورکړل سو. د ۱۹۲۸ز کال د اکتوبر له میاشتې، د ۱۹۲۹ز کال د نوامبر تر میاشتې پورې د تهران سفیر. په ۱۹۳۰ز کال کې د ترکیې سفیر. د مصر لوی سفیر. په ۱۹۳۷ز کال کې د انقرې سفیر؛ په ۱۹۳۸ز کال کې د مسکو سفیر. په ۱۹۴۶ز کال کې د ملي اسامبلې رئـیس. په ۱۹۵۰ز کال کې د مسکو سفیر. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د باندنیو چارو وزیر. په ۱۹۶۴ز کال کې سناتور. د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. د ولسي جرګې د شپږمې دورې ویاند. د سنا رئـیس. د ستور او د سردار اعلی مډالونه ئـې اخیستي دي. په ۱۹۷۳ز کال کې وفات سو.

## ولي جان شیرزوی

د سلطان احمد شیرزوی ، زوی په ۱۹۳۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئـې د حبـیـبـیې په لیسې او سویتزرلند کې کړې دي. د باندنیو چارو د وزارت کارمند. د حقوقو د پوهنځي استاد او په ۱۹۷۱ز کال کې ددې پوهنځي رئـیس. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې اداري رئـیس. د داؤود له کودتا وروسته په کور کښـېنول سو.

## ډاکټر مـحـمـد مبـین شورش

د حاجي غلام غوث زوی په ۱۹۳۹ز کال کې په بلند آب جګان کې چې اوس د هرات د ښار یوه برخه ده، زېږېدلی دئ. د «مکتب ِ غور دروازه» او د هرات د سلطان غیاث الدین غوري په لیسې کې ئـې زده کړې کړي دي. د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او په ۱۹۶۰ز کال کې د لیسانس په درجې او په ۱۹۶۵ز کال کې په اقتصاد کې د ماستر په درجې د میشیګن له پوهنتون څخه فارغ سو؛ او په ۱۹۷۲ز کال کې ئـې خپله دکتورا په مقایسوي تعلیم او تربیې کې د شیکاګو له پوهنتون څخه واخیستله. د امریکا په متحده ایالاتو کې په «اوربانا چامپین»[1] کې د «ایلي نویز په پوهنتون کې»[2] د «مقایسوي تعلیم او تربیې»[3] او د «تعلیم او تربیې د اقتصاد»[4] پوهنیار.

## سعد الدین شپون

د قاضي برهان الدین زوی په ۱۹۳۳ز کال کې د کندز په خان آباد کې زېږېدلی دئ. لومړنی ښوونځی ئـې په خان آباد کې لوستی او په ۱۹۴۱ز کال کې ورڅخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۹ز کال کې د حبـیـبـیې له لیسې څخه فارغ سوی دئ.

[1] -Urbana Champaign
[2] -University of Illinois
[3] -Comparative Education
[4] -Economics of Education


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وریسي د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي ته تللی دئ. د پښتو اکاډیمی غړی. لوړ تحصیلات ئې د امریکا په متحده ایالاتو کې کړي او په ۱۹۶۷ز کال کې فارغ سوی دئ. افغانستان ته له راستنېدلو سره د پښتو اکاډیمی غړی سو. په کابل کې د ملګرو ملتونو د دفتر د معلوماتو د دفتر مدیر. د ګڼ شمېر شعرونو او مقالاتو لیکوال. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۳ز کال پورې په دنمارک کې وو، له هغهٔ وروسته د امریکا متحده ایالاتو ته راغی.

## شجاع الدوله

چاریکارو ته نېږدې د غوربند له سیمي څخه دئ. د ماوراء النهر په یوې کورني پورې اړوند. په ۱۸۹۶ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۱۶ز کال کې یو پیش خدمت او په هرات کې د جرمن د مأموریت مېلمه پال کوربه وو. د ۱۹۱۷ز کال د فبروری په میاشت کې د امیر حبیب الله خان فراش باشي مقرر سو. ګنګوسو نوموړی د امیر حبیب الله خان په قتل کې ښکېل وګاڼهٔ. اعلیحضرت امان الله خان دی د کابل کوتوال او د پولیسو د مشر امین العسعس په توګه مقرر کړ. د کابل د دویمي فرقي بولندویي ئې وکړه او د ۱۹۲۱ز کال د جنوری په میاشت کې د هرات د والي په توګه مقرر سو. په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې د برتانیې – افغان په کنفرانس کې پلاوی. د امنیت د وزیر په توګه مقرر سو او وریسي ځای ئې محمود خان ونیوهٔ. په ۱۹۲۳ز کال کې دی د هرات „رئیس تنظیمیه" وو او ځای ئې میرزمان الدین ونیوهٔ او په ۱۹۲۴ز کال کې کابل ته راستون سو. د منګلو د بغاوت پر مهال ورته دا کفالت وسپارل سو چې په „سمت ِ شمال" کې نظم ټینګ وساتي. د ۱۹۲۴ز کال د آګست په میاشت کې په لندن کې د لوی سفیر په توګه مقرر سو چې د ۱۹۲۵ز کال د اپریل په میاشت کې لندن ته ورسېد. له یوې انګلیسي ښځې سره ئې وادهٔ وکړ. د ۱۹۲۹ز کال د فبروری په میاشت کې د جرمني او شوروي اتحاد له لارې کندهار ته احضار سو. د ۱۹۲۹ز کال د مارچ د میاشتي په ۲۸ نېټي هرات ته راورسېد او د امیر امان الله خان په استازیتوب ئې د والي دنده پر غاړه واخیستله. د ۱۹۲۹ز کال د مي په میاشت کې کله چې د حبیب الله کلکاني نوماند عبدالرحیم ورسېد دی مشهد ته وتښتېد. بېرته د تاشکند – مسکو له لارې لندن ته په لاره سو او د ۱۹۲۹ز کال د جولای د میاشتي په ۱۱ نېټې لندن ته ورسېد. د ۱۹۲۹ز کال د سپتمبر په میاشت کې په برلین کې وو. د ۱۹۲۹ز کال د نوامبر په میاشت کې په مسکو کې وو. په ۱۹۳۳ز کال کې په جرمني کې وو. د ۱۹۳۶ز کال د فبروری په میاشت کې په شوروي اتحاد کې وو. د دوهمي نړی والي جګړې په ټول مهال کې ئې په جرمني کې ژوند وکړ او په ۱۹۴۵ز کال کې په برلین کې وفات سو.

## غلام غوث شجاعي

په ۱۹۴۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې ئې د نجات په لیسي کې زده کړې وکړې. د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې ئې د پښتو په دیپارتمنت کې تحصیل وکړ او په ۱۹۶۱ز کال کې ورڅخه فارغ سو. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د ادبیاتو د پوهنځي اسیستانت. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۵ز کال پورې ئې د میونیخ په پوهنتون کې جرمني ژبه او فرهنګ، فلسفه او سایکولوژي ولوستله. په ۱۹۷۵ز کال کې د یوهٔ تیزس په لیکلو په دې سرلیک فارغ سو : „په اسلام کې آزادي او برخلیک/ تقدیر : له لویدیځې فلسفې سره د یوې پرتلې/مقایسي هڅه„ [5] افغانستان ته له راستنېدلو وروسته د کابل په پوهنتون کې د فلسفي او سایکولوژی مدرس. د ګڼ شمېر رسالاتو

[5] -Freedon and Predestination in Islam : Attempt at a comparison with Western Philosophy


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

ليکوال. د ،،ګريم د ښاپيريو قصي،،[6]ئـي په ۱۹۶۳ز کال کې پښتو او دري ته وژباړلې. په ۱۹۷۹ز کال کي ونيول سو او اعدام سو.

**شورماچ** : وګوړئ : نورستاني

## ډاکټر مير عبدالفتاح صديق [7]

،د ملګرو ملتونو د پلاوي د غړي مير عبدالوهاب ورور، د مير محمد صديق زوی په ۱۹۳۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د ليسي دوره ئـي د حبيبيي په ليسه کې او له ۱۹۴۹تر ۱۹۵۳ز کال پوري ئـي د ،،انګلستان د لندن په ايټن هاوس،، [8] تيره کړي ده. په ۱۹۵۷ز کال ئـي خپل ليسانس په اقتصاد کې د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. په ۱۹۵۹ز کال کې ئـي په بيروت کې له امريکايي پوهنتون څخه په ،،سوداګريزې اداري،، کې د ماستری معادل [9] تر لاسه کړ. په ۱۹۶۲ز کال کې ئـي د هندوستان له ډيلي څخه د ،،تعليمي او تربيتي پلان جوړوني او اداري،، [10] تصديق ليک تر لاسه کړ. په ۱۹۶۶ز کال کې ئـي د انديانا له پوهنتون څخه خپله دکتورا په تعليم او تربيي کي ترلاسه کره. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۷ز کال پوري د حبيبيي په ليسي کي نيمه وخته ښوونکی. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۱ز کال پوري د معارف د وزارت د باندنيو اړيکو د رياست غړی. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پوري د تعليمي او تربيتي پلان جوړوني د رياست سرپرست مرستيال رئـيس. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پوري سرپرست رئـيس. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۴ز کال پوري د تعليمي او تربيتي پلان جوړوني د رياست رئـيس. په ۱۹۷۳ز کال کې د ولسمشر داؤد سلاکار. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د افغان – جاپان د دوستۍ ټولنې رئـيس. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د معارف د وزارت لومړی مرستيال وزير. په ۱۹۸۳ز کال کې ،،د انديانا په پوهنتون کې بين الآسيايي مطالعاتو په انستيتيوت کې څېړونکی،، [11].

### نور بيا

## شمس الدين صديق

په ۱۹۴۲ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. له حربي پوهنتون او ...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک]

[6] -Grimms Fairy Tales
[7] - SIDDIQ, MIR ABDUL FATAH : ددې مخ ته ئـي په عربي تورو مير عبدالفتح ليکلي دي، خو زه ژباړونکی ئـي فتاح لولم.
[8] -Eaton House, London, England
[9] -equivalent of M.B.A or Master of Business Administration
[10] - Certificate in Education Planning and Administration
[11] -Research Scholar, Institute for Inner Asian Studies, Indiana University


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ